# شمالي وزيرستان: د ټي ټي پي خوارجو پر بې ګناه ځايي خلکو بزدلانه بريد

شمالي وزيرستان (ګربز)؛ د امنيتي ځواکونو لخوا ماتې خوړلو سره د ټي ټي پي خوارجو نن د شمالي وزيرستان په ګربز سيمه کې د جهانګير بازار سره نژدې په حلاله روزي ګټونکو بې ګناه مزدوران تر هه ګريز بريد کړي دي.

**د تفصيلاتو له مخې، خوارجو د چلغوزو سپينونکو موټر هغه مهال په نښه کړ چې د خپلو کورونو ته د ستنيدو په حال کې وو. په پېښه کې د ۲ مزدورانو د وژل کېدو او ۱۸ نورو د ټپي کېدو خبر هم ورکړل شوی دی. له ولس سره د دوی دښمني ورخ تربلې په دې ډول ناوړه کړنو سره نوره هم روښانه کيږي.**

د يادونې وړ ده، چې امنيتي ځواکونو په دې موقع د تل په څېر د خپلو خلکو ملاتړ وکړ او ټپيان يې د درملنې په موخه رزمک ته ولېږدول، او د څو قيمتي ژوند وژغورل شو.